# دنړۍ تاریخ

لیکوونکی: جیفری پارکر

ژباړه: قاسم خان مندوخیل

Download from:aghalibrary.cm

# انساني رېښه

۸۰۰۰ - ۸،۰۰۰،۰۰۰ ترزيږدیمخکې

د انساني ژويو وده ډواوږد او پېچلی تاريخ لري چې څه نا څه اته ميلون کاله ته رسيږي.له بده مرغه تر دا اوسه يې نکل ډېر تت او ناڅرګند دی.

لرغونپوهانوچې څومره مالومات راټول کړی دی هغه يې له تيت وپرک خورو وروانساني هډونو څخه ترلاسه کړی دي او دا انساني پاتې شونې له يوه بل څخه په لرې واټونونو کې موندل شوی دی.

له انسانانو سره په ښه ورته ژوی لکه شيمپانزيان او ګورېلاګان د افريقا په حاره ييزه برخه کې موندل شوی چې له همدې ځايه زموږد ژويو رېښه لټولای شو.



د انسان او بيزو (اپيز)ترمنځ په لومړي ځل لاره په همدې سيمه کې د اتو او يا پنځو ميليونو کلونو په شاوخوا کې بېله شوېده.له پرله پسې زدکړې سره سره بيا هم د لومړني پېر په اړه لږ خبر يو.ياني هغه دا چې کومو سببونو لومړنی انسان وزيږولی .خو داسې ښکاري چې څلور ميليون کاله پخوا زمونږ لومړني نيکونه په پوره توګه انساني بڼې ته رسېدلي وو.مخکيني انسانان لا دوړاندې له خپلو نژدو خپلوانو لکه بيزوګانو څخه جلا ابسېدل.لومړنی نښه يې دا وه چې بيزوګان په لاسونو او پښو(خاړپوڅو) ځي او پر شاخونو ټالېږي.يا له يوه شاخه بل ته ټوپونه وهي.



خو د لومړني انسان اډانه  (سکيلېټ) په کونبوغي،ملاغشي،کوناټي او پښې پنجې جوړښت يې دی ددې جوګه کړی چې نېغ اوت جګ پر پښو ودري او وګرزي.د انسان جسماني جوړښت دده لپاره بې ساري لويې پايلې لرلې دي.دده د بدن جوړښت يې لاسونه نورو کارونو ته خوشي کړي چې شيان او توکي ورباندې پورته کړي،توکي پرې جوړکړي.او هممهاله يې ژامه او اوربوز نور نه وو پکار چې د خوړو راټولو ته  يې وغزوي ځکه خو يې د وخت په تېرېدو سره دمخ جوسه کوچنۍ شوېدۀ.او دماغ کاسه يې غټه شوې او بڼه يې اوښتې ده.په خپله د کار کولو وړتيا يې ډېره شوه.نېغ تلل يې پيل کړل،برسېره پردې يې فکري وړتيا پراخه شوه.دې پدېدې  دانساني ژويو په  آموخته کېدواو کاميابه کېدو کې ځرګنده ونډه لرلې ده.

د ایتوپیا په هادار کې د یوې میرمنې څه نا څه درې میلیون کاله پخوانۍ بشپړه هاډانه skeleton موندل شوې چې د لوسي په خیالي نامه بلل کېږي.ددې ونه څه کم پنځه فټه وه او وزن یې ۵۸ پاونډوو.ددې مخ وړوکی وو خو ژامې یې جوتې وې.ددې له هاډانې نه داسې ښکاریده چې پر دواړو پښو نېغه تلای شوای.دا یوزانۍ پخوانۍ ثبوت نه دی چې انسانان په پښو تلو بلکه تردې ډېر پخوا د تنزانییا په لیتولي کې هم ددوو پلستکي هلکانو د پښو د نښو پاتې شونې موندل شوې او ښایي د یوې کورنۍ ماشومان به وي ؟ دوی ښایي یوه بل ته لاسونه ورکړي وي او څنګ پر څنګ روان وو. د دوی پاتې شونې ۳۷۵۰۰۰۰ کاله پخواني دي چې په اورشیندونې کې خوندي پاتې شوي دي.له دې څخه مونږ ته د پخوانیو نیکونو د خوزښت لومړنۍ څرک جوتېږي.خو لوسي تر دا اوسه لومړنۍ پخوانۍ پېژندل شوې انساني ډوله هاډانه ده.



د لوسي په څېر ژوي چې استرالوپیتېساینیز Australopithecine (ددې مان جنوبي بېزوګانې) نومېږي .دوی د افریقا په دوو سیمو لکه د ختیز ریفټ وادي او په جنوب کې های پلېټیکس high plateaux دی.پخوا دوی د سترې وادی په لاندینیو سیموکې د سیند غاړې او جهیلونو پر څنګ اوسېدلی خو وروسته بیا نه یو ډاډه چې چېرته به یې ژوند کاوۀ.خو د پړانګانو لخوا د وژل شویو ښکارویو او نورو ژیو سره یو ځای د هغوی هډونه او پاتې شوني هم موندل

شوي دي .هغوی اوزار او اور نه درلود او داسې ښکارېږي چې دغه وړوکيو او هوسا  غوښي خواړو د لويو ښکاري ځناورو پر ښکار گوزراه کوله.



داسي نه ایسي چې استرالوپيتېساينيز ( Australopithecine ) دې له افريقا بهر کوچېدلې وي.او ان خپله د دوی وروستی هغه یو میلیون کاله وړاندې مړه شوي دي.خو تر دوی ډېر وړاندې د دوی ځای  ډېرو پرمختللي  تکړه او پیاوړي ژوي چې په ټولیزه توگه ورته هومو مېن  homo manیاني د اوسني انسان لومړنی بنې يې ځای ونيولی.



استرالوپیتېکس(Australopithecus ) د دماغ کاسه ۷۰۰ مکعب سانتي میتر وه.چې له اوسنیو بېزوگانو(اپیز)څخه ډېره جلا نه وه.او په دوی پسې زغرده هومو هابیلیس (homo habilis) راغلي چې د دماغ کاسه لږ غوندې غټه یانې ۸۰۰۰ مکعب سانتي میتره وه.خو په راورستیو پړاونو کې هومو ایریکتوس( homo erectus )په دوپښو تلونکو د دهغوی ځای ونیولی چې د دماغ کاسه یې ۱۰۰۰ مکعب سانتي میتره او یاځینې وخت ترې دې ډېره وه.ددغه ژویو د مخ جوسه یې هواره او د بدن بڼه یې ډېره انساني کېدله او له کروغوالي زیات جگوالي ته تلل.خو ۵۰۰۰۰ کاله پخوا چې کومې انساني هاډانې او هډوکي موندل شوي د اوسني انسان او د هغوی تر مېنځ توپیر نه لیدل کېږي ځکه چې د دماغ کاسه یې ۱۵۰۰ مکعب سانتي میتر ده.



او د انساني دماغ د کچې غټوالی هغه ستر لامل دی چې دده په بریالیتوب او پرمختګ کې یې ارزښتناکه او پرېکنده ونډه لرلې ده.

ځیرک او هوشیار انسانان لومړني هغه وو چې د جسماني زور پرځای یې دماغ وکارولی،همدا هغه دماغي هنرونه وو چې انسانانو نوي ایجادات وکړو او د خپلې زدکړې وړتیایې لوړه کړه.خپلو کې یې اړیکي او همکاري رامنځ ته کړه.ددې برسېره یې دا وړتیا ولرله چې له خپل پلرني ټاټوبي افریقا څخه لرې په پردي هېواد کې د هغه ځای له چاپیریال او اب وهوا سره خپل ځان اموخته او بلد کړي.لکه اسیبا ،اروپا ،امریکا لره بره او استرالیا ته وکوچېدل.دېری داسې ځیناوران وو چې ډېر چټک او ګړندي وو بلکه ډېر پیاوړي او تکړه وو.خو د انساني ځیرکتیا او هوښیارتیا له کبله انسانان په پایله کې پر هغوی برلاسي شو.او د انسان د پوهې څرک په هغه پراخو اوزارونو او وسلو کې لیدل کېدای شي چې زمونږ غور نیکونو کارول.

شېمپانزیانو د مېږیو له سوړې خواړه په یوې لښتې راوېستل.

ګوربتو د سکو یا کیشف د پټوکي ماتولو لپاره کاڼي کاروي،خو انسانان یوزاني ژوي دي چې له طبعي توکیو ځان ته اوزار جوړوي.تر ټولو مخکینۍ اوزار چې انسان د ۲۰۰۰۰۰۰(شل لکه کاله ) پخوا جوړ کړی هغه د کاڼي څوټک او تېښي دي چې د چارتراشیو او نورو موخو لپاره یې کارولي دي.دا د افریقاد تنزانییه په اولدووای تنګي کې موندل شوي دي.

په تنزانییه کې د اولادوی تنګۍ



## د نړۍ تاریخ

د آوزارونو رامنځ ته کېدل په رښتیا هم د انساني دماغ د ستري وړتیا څرګندوینه کوي چې د لوی دماغ انسانانو د خپلو مخکینیو هغو استرالوپیتیساین (د اوسني انسان مخکینۍ ډله چې اوږده لاسونه یې لرل) بدلون د هغوی له خوړو سره تړلی وي. استرالوپیتیساین سابه خواړه وو خو د اوازرو په مټ هوموهابیلیس (Homo habilis) انسانان ددې جوګه شو چې د ښکاروي له بدنه غوښه راجلا کړي.لومړني آوزار له وژل شویو ځناورانو سره موندل شوي دي.

هومو هابیلیس خپل خواړه تل د زمریو او نورو ځناورخورو لخوا د ښکار شویو ښکارویو له پاتې شونو څخه تر لاسه کول.داسې نه ایسي چې دغه وړو او ناتوانه انسان وزمو دې د اسانو او غرڅنیو ښکار کړی وي ځکه چې د هغوی اوزار ددې جوګه نه دي چې هغوی دې شکار وربانديې کړی وای.د اوزارو او وسلو جوړېدنګ په انساني پرمختګ کې یو ډېر سترګام بللی کېږی ځکه چې په دې سره نه یوازې هغوی د خپلو خوړو موندلو وړتیا پراخه کړه بلکه دورځني کارولو لپاره یې د توکیو لکه د لرګیو،پټوکو،دروو(درګو) او پوستکو دتراشولو او تېره کولو وړتیا وموندله.د دغه مهارت له کبله انسانانو په پوړیزه توګه دا زدکړه تر لاسه کړه چې څنګه خپل ځان ته سرپټانی او کالي جوړکړي- د انسانانو لپاره دا دواړه اړین وو چې له افریقا پرته سړو سیمو ته وخوځېږي.

انسانانو له افریقا بهر ګام کېښود دې ته د پوړیز بهیر یا ارتقایی سلسلې دویمه لویه ډله وایي چې هومو اېرېکټس (نېغ انسانان) ویل کېږي.ددغه ډول لومړۍ اډانه (skeletons) یو نیم میلیون کال وړاندې په افریقا کې موندل شوېده،د دوی غور نیکونو اته سوه او یا پنځه سوه زره کاله پخوا اسیيا او افریقا ته خوځېدلې دي.هغوی لویې

ککرۍ لرلې او اوزار یې جوړولای شوای.د هغوی مهم اوزار لاسی تبرګۍ تر څه باندې یو میلون کال پورې (په بېلا بېلو بڼو ) کې کارول کېدلی.تر ټولو غوره دا چې هغوی د اور لومړی کارونکي وو.لومړي انسانان د کورې پراستوايي او منځنۍ کربڼه اوسېدل ځکه هغوی طبعي تودوخې ته اړتیا درلوده او له دې هغې خوا ته یې ژوند نشو کولای.اور انسانان ددې جوګه کړل چې د نړۍ نورو برخو ته وخوځېږي.ددغه اوزارو په جوړولو سره انسانانو له ښکاري ځناورانو خان ساتنه وکړای شوای.د پخلي اوزاریې وموندل او د لرګي په څېر ځیزونو تراشول یې زدهکړ.او د اور په موندلو سره یې نه یوازې خپل ځان تود وساتلی بلکه خپل چاپېریال یې هم تر ولکې لاندې راووست.

په برتانییا،هنګري او چین کې د یخي دورې ننغري موندل شوي چې هغه مهال به د اوسنیوورځو په پرتله ځینې وخت تودوخه له ۱۰ څخه تر ۱۵ ډګري سانتي ګراډ پورې ټیټه تله.اب وهوا (اقلیم) څه نا څه ۳۸ میلیون کاله پخوا په سړېدو شوه،او پر انتارکتیک د واورو غونډۍ جوړې شوې،خو تودوخه ۱۴ میلیون کال وړاندې په چټکۍ لاندې ولوېده.او د ځمکې جنوب پلو د واورو لوی غرونه رادبره شو. درې میلیون کاله پخوا پر شمالي قطب د واورو څادر وغوړېدی.او ۱،۵۰۰،۰۰۰کال تر زېږدي مخکې لومړي بشپړ کنګلونه یا ګلېشیېر رامنځ ته شو،اود اوسنۍ کچې په پرتله تودوخه هم لاپسې ټیټېده او جنوب لورې واورین څادر وغوړېدل.او بالاخره دسړوخي څه نا څه لسګونه زره کاله وروسته تودوخه بېرته رادبره شوه او واورین څادر له مېنځه ولاړل.

له دې پرته هغوی د اور په مټ له نورو ښکاري ځناورانو خپل ځانونه خوندي کړل بلکه د خوړو پخولو وسیله یې شو او دا له لرګي څخه د بېلا بېلو اړینو توکیو جوړولو لپاره هم وکارولی.د اور په ګابو کولو سره انسانانو ځان ته نوې او انقلابي لارې وموندلې او پر خپل چاپېریال یې ولکه ترلاسه کړه.

لومړي نغري په برتانييا ،هنګري او چاينا کې موندل شوي چې موده يې د يخي دورې ته رسيږي ،هغه وخت به داوسني مهال په پرتله د مځکې تودوخه لاندې باندې تلله او ځينې وخت له ۱۰ نه تر ۱۵ دګری سانتي ګراډ پورې ټيټېده .داقليم سرېدل ۳۸ ميليون کاله وړاندې پيل شو،او د ارکټيک لوري ته د واورو غرونه رامنځ ته شو،خو په تودوخه کې څوړ ۱۴ ميليون کاله وړاندې په چټکی سره پيل شوه،او د مځکې جنوبي پلود واورو ايرانونکی غرونه راپورته شو.درې ميليون کاله پخوا پر شمالی قطب د وارو ښادر وغوړېدی او ۱،۵۰۰،۰۰۰کاله تر زيږدی وړاندې په بشپړه کچه ګليشيرونه راوټوکېدل او تودوخه نوره هم لاندې وغورزېده چې د جنوب پلو کنګلييزښادر لاپسې وغزېدی.په پايله کې د ساړه اکر يا حالت څه نا څه لسګونه زره کاله وروسته ،تودوخه بېرته پرځای شوه او کنګلييز ښادرونه پر شا وتمبېدل.

د ګلېشرونو دغه ډول مخ ته شا ته تګ زمونږ د چاپېريال يوه جوته بڼه وګرځېده.اټکل کيږي چې د ۸۰،۰۰۰ او ۱۰،۰۰۰ کلونو د مودې په مېنځ کې د پرله پسې دغه خوزښت له امله د ځمکې تودوخه لاندې ولاړه او تقريبا پر ټوله ځمکه کنګلييزښادر وغوړېدی.ددغه کنګلييزښادر په پېر کې د ځمکې تودوخه د اوسني وخت هومره لوړه ختلې وه.تر ټولو وروستی د کنګلييزښادر پېر ۱۰،۰۰۰ کاله وړاندې پای ته رسېدلی.او اوس موږ د کنګلييزښادر تر مېنځ پېر کې ژوند کوو چې د وړاندني سخت ساړه حالت څخه د جلاکېدو غوندي دی.او داسې ښايی کېدای شي اوس نه بلکه په راتلونکو زرګونو کلونو کې به کنګلييز ښادر بيا پر ځمکه وغوړېږي او بيا به د کنګل زمان ته وګرځو.

د کنګليز پېر په اوج کې کنګلييزښادر د شمالي يورپ ،اسييا او شمالي امريکا ډېره برخه نيولې وه،او په دې سخت يخ موسم کې انسانان هلته د اوسېدو جوګه نه وو.لرې جنوب پلو موسم معتدل شو خو ټروپيکل سيمه ډېره سخته توده وه او د اوسمهال په پرتله يې موسم خشک وو.څنګه څنګه چې کنګلونه پراخېدل نوهغه حيوانات

او ښاروی چې په معتدله اب وهوا کې ژوند کولای شوای دي ته اړ شو چې له شماله جنوب پلو ته مخه کړي.اوس به دغه کنګل سیمو کې یوازې ماموتپیل mammothاو کرګ او قطبي ګاوزې ژوند کولای شي.اود خواړو تکییه یې پر ګل سنګ او هلته پر شته یوازنیو شنو وړوکو بوټیو ده.

دغه ډول موسمي حالات د ټروپیک سیمي د ژیو لپاره زښت ستونزمن وو دوی هلته د اوسېدو جوګه نه وو.خود سلګونه زره کلونو په تېرېدو سره انسانانو د اوزارو او نورو سرچینو په موندلو او جوړولو او د زدکړو به ترلاسه کولو سره ددې وړتیا ترلاسه کړه چې په دغه سخت ساړه یخ کې ژوند وکولای شي.
له خپل پلرني ټاټوبي

زموږ په چاپېریال کې

**پدی کتاب کار روان دی او نورې برخی به ژر خبری شی**